# دَ یهوداه خط

## یهوداه باب ۱

## سلام

۱ دا خط دَ یهُوداه له طرفه دے چه دَ عیسیٰ مسیح غُلام اَؤ دَ یعقُوب ورور دے،اَؤ دَ هغوئ په نُوم لیکلے
شی چه دَ بلنے په وسیله خُدائے پلار ته عزیز دی اَؤ دَ عیسیٰ مسیح په وسیله ساتلی شوی دی،

۲ رحم،سلامتیا اَؤ مینه دِ په تاسو زیاته وی.

## دَ دروغژنو اُستاذانو په خلاف عدالت

۳ زما دوستانو! کله چه ما تاسو ته دَ هغه خلاصُون په باب کښے دَ لیکلو زیات کوشِش کولو په څهٔ
کښے چه مُونږ ټول شریک یُو،نو ما دا خط لیکل زیات ضروری وګڼلو. زهٔ غواړم چه تاسو دَ ایمان په حق
کښے سخت منحت وکړئ ځکه چه دَ ایمان دا خُدائے خلقو ته په یو ځل سپارلے شوے وُو. ۴ زهٔ دا
ځکه وایم چه ځنے بے دینه خلق په مُونږ کښے په پټه راګډ شوی دی چه زمُونږ دَ خُدائے فضل ته دَ خپلو
شوقُونو عُذر جوړ کړی،اَؤ زمُونږ دَ یکی یو واکمن مالِک،مالِک عیسیٰ مسیح نه اِنکار کوی. ډیر پخوا
پاک کلام دَ هغوئ دَ سزا ذکر کړے وُو.

۵ تاسو ټول په دے ښهٔ خبر یئ خو زهٔ به ئے بیا درياد کړم چه زمُونږ مالِک څنګه بنی اِسرائیل له مصر نه
بچ کړل،خو بل ځل ئے هغه خلق تباه کړل چه ایمان ئے نهٔ وُو راوړے. ۶ یاد لرئ چه کُومو فرښتو چه دَ
خپلے درجے خیال ونهٔ ساتلو اَؤ خپل ځائے ئے پریښودلو،نو خُدائے هغوئ په آبدی زنځیرُونو اَؤ په تور تم
کښے دَ قیامت دَ لوئے ورځے پورے ساتلی دی. ۷ دغه شان دَ صُدوم اَؤ دَ عموره اَؤ ګیر چاپیره ښارُونو
مِثال واخلئ چه دَ هغوئ خلق هم دَ هغو فرښتو په شان غیر فطری فعل اَؤ په حرامکارئ کښے پریوتل،اَؤ
هغوئ ته دَ تل په اور کښے سزا ورکړے کیږی،اَؤ دا زمُونږ دَ پاره عبرت دے.

۸ سره دَ دے دا خلق هم دَ خپلے خوش فهمئ په وجه خپل جِسمُونه پلیتوی،دَ خُدائے اِختیار سپک ګڼی
اَؤ فرښتو ته بد وائی. ۹ یاد لرئ چه دَ ټولو نه لوئے فرښتے میکائیل هم دغسے نهٔ وُو کړی،ځکه چه څهٔ
وخت چه هغه دَ مُوسیٰ دَ لاش په باب دَ اِبلیس سره بحث کولو په هغه وخت ئے دومره هِمت ونهٔ کړو
چه اِبلیس ته په بدرد وئیلو په هغهٔ اِلزام ولګوی،بلکه دا ئے ووئیل چه"خُدائے دِ تا ملامت کړی.“ ۱۰ خو
دا خلق هغه څیزُونو ته بدرد وائی کُوم چه دوئ نهٔ پیژنی،اَؤ چه په کُومو څیزُونو دوئ په طبعی طور لکه دَ
کم عقلو ځناورو پوهیږی،په هغے هم ځان تباه کوی. ۱۱ اَفسوس په هغوئ! هغوئ دا قائن لار خپله کړه
،اَؤ هغوئ دَ پیسو دَ خاطره دَ بلعام په شان ګُمراه شول،اَؤ هغوئ دَ فورح په شان مخالفت وکړو اَؤ دَ هغهٔ
په شان هلاک شول. ۱۲ هغوئ ستاسو دَ خوراک څښاک په میلمستیاؤ کښے دَ شاملیدو سره دَ مینے اَؤ دَ
محبت موقعه خرابوی لکه چه داغُونه دَ څهٔ څیز ښکلا خرابوی،هغوئ بے دریغه عیش کوی اَؤ خپلے
ګیډے ډکوی. دا دَ بے بارانه وریځو په شان دی چه هوا په مخه کړے وی،دا دَ منی دَ مُوسم دَ ونو په

شان دی چه په دواړه اړخه مړۀ دی،يعنے بے ميوے دی اَؤ دَ ويخه راويستلی شوی دی. ۱۳ هغوئ دَ
سمندر تُندے چپے دی چه شرمناک کارُونه دَ ځګُونو په شان غورزوی،هغوئ هغه ستوری دی چه بے
واکه ديخوا اخوا ګرځی،اَؤ دَ دوئ دَ پاره دَ تيارے ځائے دَ تل تر تله ټاکلے شوے دے.

۱٤ حنوک هم چه له آدم نه په اُوومه پيړئ کښے وُو،دَ دوئ په باب کښے پيشن ګوئی کوی چه"ګورئ!
مالِک به دَ خپلو زرګُونو پاکانو سره راځی. ۱۵ چه دَ ټولو اِنصاف وکړی اَؤ ټولو بے دينو له دَ سزا حُکم
ورکړی،ځکه چه هغوئ دَ خپلے بے دينئ په مجبورئ ډير دَ بے دينئ کارُونه وکړل،اَؤ خُدائے بے دينه
ګُناه ګارانو له هم دَ سزا ورکولو حُکم وکړی ځکه چه هغوئ دَ هغۀ خلاف ډير څۀ وئيلی دی."

۱٦ دا ګُوريدُونکی اَؤ شکايت کوُونکی خلق دی،هغوئ په خپلو خواهشاتو پسے ځی،هغوئ دَ خپل ځان
په حقله غټے غټے خبرے کوی اَؤ دَ خپل مقصد دَ پاره خلقو ته ښے ښے خبرے کوی.

## خبرداری اَؤ هدايات

۱۷ خو زما دوستانو! تاسو زمُونږ دَ مالِک عيسیٰ مسيح دَ رسُولانو پيشن ګوئی ياده لرئ. ۱۸ هغوئ تاسو ته
دا وئيلی وُو چه په آخره زما نه کښے به داسے کسان راځی چه په تاسو پورے به ټوقے کوی اَؤ دَ خپلے
بے دينئ په خواهشُونو پسے به ځی. ۱۹ دا خلق به بليټُون راولی،نفسانی دی اَؤ رُوحُ القُدس نۀ لری. ۲۰
زما دوستانو! تاسو خپل ځانُونه دَ خپل غوره ايمان په بُنياد قائم کړئ اَؤ دَ رُوحُ القُدس په طاقت دُعاګانے
کوئ. ۲۱ خپل ځانُونه دَ خُدائے په مينه کښے قائم وساتئ،اَؤ دَ هغے ورځے اِنتظار کوئ چه زمُونږ مالِک
عيسیٰ مسيح به په خپل رحم تاسو ته دَ تل ژوندُون درکړی.

۲۲ په شکمنو کسانو باندے رحم وکړئ. ۲۳ اَؤ ځنے دَ اور لمبو نه په نيولو بچ کړئ،اَؤ په ځنو خلقو په
ويرے رحم وکړئ،اَؤ هم له هغه جامو نه نفرت کوئ چه جسمانی داغ پرے لګيدلے وی.

## دَ خُدائے حمد

۲٤ اوس هغه چه تاسو دَ غورزيدو نه بچ کولے شی اَؤ په خپل جلال کښے مو بغير دَ ملامتيا نه په
خوشحالئ راوستے شی، ۲۵ دَ يکی يو خُدائے چه دَ مالِک عيسیٰ مسيح په وسيله زمُونږ خلاصوُونکے
دے دِ جلال،شان و شوکت،قُدرت اَؤ اِختيار له ازل نه،اوس اَؤ تل تر تله وی! آمين.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved